مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

حبیب الرحمن رحیمی ۲۰۲۲/۰۹/۰۱

د چندې صندوق

له څېرې منظم چې کاري رسمي جامې يې پرتن وې ، په جيب کې يې شين قلم ټومبلی وو ، په کوم رنګ چې بوټي زرغونيږي ، د خپل ځيښتن ستاينه کوي ،همدې ملګري ته په درنښت ډيره مودبانه ،دوستانه ،متواضع او مينه ناک چلند کوي .همدا څه به وي ، چې له چاسره دوکه نه کوي ،ناوړه ګټه ترې نه اخلي ،دارزښتونو خلاف ژبه نه کاروي ،د خپلې ايمانداری خيال ساتي او د الفاظو جوړښت اوسلوک يې تجربه کار ښکاروي.

د خوړنځي د دروازې له تړلو وروسته يې سلام ، کلام او احترام وړاندې کړ ، اېخوا او دېخوا يې وکتل ، ترڅو وړ او ارام ځای ومومي ، سره له دې چې خوړنځي د ننه ګڼه ګوڼه زياته وه ، په د بيروبارکې يې ايله د وروستي قطارپه چوکۍ کې ورته د ناستې ځای پيدا شو ، کله چې کيناست مخکې تر دې چې د پخلنځي څخه د خپلې خوښې برابر خوړو غوښتنه وکړي ، ښې لاس ته ناست ملګري يې خواړه بس کړل ، د لاسونو په پورته کولو سره يې د ډوډۍ دعا په خوله راوړله ، له خپله ځايه وپاڅيد، ويې ويل: موږته کوم خدمت شته؟ او له دې وروسته يې د رستوارنت د خزانه دار خواته قدمونه ورلنډ کړل.

قلموال چې د څنګ د ملګري لوښې وليدل چې ترنيمايي زيات خواړه په کې سلامت پاتې دي ، په ذهن کې يې څه را تېرشول ، لستوڼي يې بډ وهل ، د روزي رسونکي ځيښتن نوم يې واخيست ، د خوړو په خوړلو يې پيل وکړ ، چې پدې سره د خزانه دار سترګې ردې ودې اوښتې را اوښتې خود ويلو لپاره يې شونډې ونه غوړېدلې ، د دې ننداري کتونکو لږ څه وخندل ، نوموړي چورت هم پرې خراب نه کړ ، په بېغمه زړه يې خوړلو لړۍ مخکې يوړه ، د واکمن پالونکي ذات شکر يې ادا کړ ، د شته ګډونوالو څخه په رخصت د محاسبې ميز ته هسکه غاړه لکه منصور چې د خپلې مينې انجام ته ودرېد، د پوره خوارک پيسې يې ورکړې ، د خوا يې وکتل چې صندوق هم د ښه راغلاست او مخه ښې په ليکه کې ځای نيولی دی، پرې ليکل شوي وو:

«د اړمنو لپاره د چندې صندوق»

ويې لوستل، د پوره خوراک پيسې يې په ښه نيت ورواچولې، د خدای پامان د غږ سره او د لاس په اوچتولو يې خوړنځی پرېښود.

افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکارۍ ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړيکه ټينګه کړئ maqalat@afghan-german.de
يادونه: دليکنې د ليکنيزې بڼې پازوالي د ليکوال په غاړه ده ، هيله من يو خپله ليکنه له راليږلو مخکې په ځير و لولئ